مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۸/۱۶

# غزل

څوک په شملو او څوک په لنګ پسې ځي
ځینې د امن پر ځای جنګ پسې ځي

پیغلې ځوانان مو راویښ شوي دي اوس
کله د بل د ډول په ډنګ پسې ځي

نوم د ابدال او مېرویس خان یادوي
د ایوب خان د تورې شرنګ پسې ځي

دلته سودا شي په پړونې د مور
ځینې بې پلاره د پېرنګ پسې ځي

څوک چې پښتو او پښتونخوا نه غواړي
داسې بې ننګه د بې ننګ پسې ځي

یه پسرلېه! ستا له خیاله زار شم
چې نه پیرنګ نه په اورنګ  پسې ځي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ